ډاکټرعبدالرحمن زماني

د ۲۰۲۰ کال د مې ۵

## د یوه افغان لخوا د پاکستان د لومړني صدراعظم د وژل کیدو د معما په هکله:

### دریمه برخه – دنادر شاه د کورنۍ سره د ببرک خان ځدراڼ د کورنۍ اړیکي

د سردار محمد نادر خان (بیا وروسته نادرشاه) د کورنۍ (یحیی خیلو) او غازي ببرک خان د کورنۍ (ببرکزي ځدراڼ) پیژندګلوي او اړیکي د امیر حبیب الله خان د سلطنت له وخته پیل شوي او د وخت په تیریدو سره په اماني، سقوي او نادریه دورو کې له دوستۍ وروسته د شکمنۍ او بیا دښمنۍ له پړاوونو تیر شوي دي.

په سراجیه دوره کې د ببرک خان ځدراڼ او سردار محمد نادر خان تر منځ پیژندګلوي د پکتیا ولایت د ۱۹۱۲ - ۱۹۱۳ کال د نا آرامیو او پاڅون په دوران کې د همکارۍ نه پیل کیږي. د امیر حبیب الله خان په وړاندې دغه پاڅون د پکتیا والي سردار محمد اکبر خان لخوا پر خلکو باندې د زور او فشار د زیاتي او غلې دانو د جبري خریدارۍ او تر خوست پورې د رسولو د فشار له امله منځ ته راغی. دغه پاڅون د ۱۹۱۲ کال په پای کې پیل او د ۱۹۱۳ کال تر پیل پورې پنځه میاشت دوام وکړ. تر ټولو مخکې منګلو (مقبل، طوطاخیلو، جاجي میدان او ځمکنیو) وسله پورته کړه. وروسته بیا احمدزي هم ورسره شول. د میدان خولې تهانه، د پټان نظامي مرکز او د خند خیلو رباط د خلکو تر برید لاندې راغلل او د مرګ ژوبلې او جبه خانې د لاسه ورکولو سره د ماتې سره مخامخ شول. پاڅون کونکو تهانه نړولې وه او د تیرې تر کنډو (غابني) پورې لاره یې د دولت پر مخ تړلې وه. ستر خان جانداد خان احمدزي، چې په کابل کې میشت و، هم د دولت سره لاس یو کړ چې پاڅون وځپي او پکتیا ته ولاړ، خو هلته یې د اړو- دوړ لمن نوره هم پراخه کړه، دا ځکه چې د هغه وراره محمد ولي خان لا پخوا هندوستان ته تګ راتګ او د انګریزانو سره ناسته ولاړه درلودله. دوي غوښتل د بزګرانو دغه پاڅون ځخه په خپله ګټه استفاده وکړي. ملک اصیل خان هم د جانداد خان په شان د پاڅون کوونکو خوا ونیوله. امیر حبیب الله خان لومړي یو فرمان واستاوه او «پاچا ته اطاعت د اولی الامر اطاعت» د فرمول په وړاندې کولو سره یې د پکتیا د والي او د هغه د مامورینو د بدلولو او هغوي ته د سزا د ورکولو ژمنه وکړه. خو خلکو د خپلو عرایضو د نه اوریدو او پخوانیو وړاندیزونو د نه منلو تجربه درلوده، نو ځکه یې د پاچا په ژمنو باور ونه کړ. پدې توګه اخ و ډب زیات شو. امیر د پکتیا او غزني خانانو، حاکمانو او عسکرو ته د پاڅون د ټکولو د عمومي یرغل امر وکړ.

په پکتیا کې مشهور ځدراڼ (ببرک خان) د خپل متعلقه خلکو سره د دولت خوا ونیوله. امیر د پاڅون کوونکو په وړاندې د جنرال محمد نادر خان په مشرۍ یو غونډ منظم پوځ واستاوه. جنرال له ۹ پن غرني توپخانې او غرابین ټوپکو سره د تیرې غابنې ونیو، چې ۴۰۰ پاڅون کونکي پکې ووژل شول او د هغوي مرکز (تندان کلا) یې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

په ګولیو او شرپنیل ونړوله . په نتیجه کې جانداد خان بریتانوي هند ته وتښتید او پاخون هم د جوړې د خبرو اترو او جرګو له لارې ختم شو ، او د جنرال نادر خان رتبه نایب سالارۍ ته لوړه شوه .[1]

په اماني دوره کې یو ځل بیا سپه سالار محمد نادر خان د خپلودوه ورونو شاه محمود خان او شاه ولی خان او غازي ببرک خان د خپلو دوو ځامنو شیرک خان او زمرک خان سره د یوه سنګر ملګری شول او د هیواد د خپلواکۍ په جګړه کې یې برخه واخیسته، چې مخکې ورته اشاره شویده .

په سقوي دوره کې کله چې سپه سالار نادر خان له فرانسې نه د بریتانوي هند له لارې بیرته د هیواد جنوبي سیمې ته راستون شو نو د غازي ببرک خان د زوي زمرک خان (مزرک خان) ځدراڼ تر مشرۍ لاندې د ځدراڼو اولسي لښکرو یې ملاتړ وکړ او د جنوبي د نورو قومونو او د آزاد سرحد د وزیرو او مسعودو قبایلو په مرسته یې د کابل په نیولو کې ورسره مرسته وکړه.

## د نادرخان سره د کابل په بیا نیولو کې د زمرک خان ځدراڼ مرسته

د سپه سالار نادر خان سره د لومړي ځل د پاره د غازي ببرک خان د زوي او ځای ناستي ، زمرک خان ځدراڼ سره مناسبات هغه وخت بیا ټینګ شول، کله چې سپه سالار نادر خان کابل ته په رسیدو کې د پکتیا د سیمې د اولسي مشرانو څخه مرسته وغوښتله.

پدې هکله د غازي ببرک خان د لمسي (شیرمحمد خان ببرکزي د زوي) قاضي محمد عمر ببرکزي د ثبت شوو اسنادو په حواله ښاغلي محمد عارف غروال لیکي «څه وخت چې جنرال محمد نادر خان د افغانستان سرحد تورو اوبو ته راورسید نو د ببرک خان ځدراڼ زوی نائب سالار زمرک خان ته یې د یوه استازي په ذریعه احوال ولیږه چې غواړم ستاسو کور ته درشم، نو هیله لرم چې له څو نورو مشرانو سره زما د هرکلي له پاره زما مخې ته راشئ . زمرک خان ببرکزی له خپلو دوو ورونو او یو شمیر قامي مشرانو سره تورو اوبو ته ورغی. تر ستړي مشي او ښه راغلاست وروسته له تورو اوبو څخه په خوست کې د المري مربوط په ګیډوره کې د زمرک خان ببرکزی د کور په لور راوخوځیدل. د لارې په اوږدو کې جنرال محمد نادر خان په یوه داسې ځای کې چې دی او زمرک خان ځدراڼ له نورو ورسره ملګرو څخه په یوه جلا ځاې کې خبرې کولې زمرک خان ببرکزي ته وویل: زه د خپل آس په خورجینه کې د طلاوو غټې کڅوړې لرم، دا در سره واخله او له خپل ځان سره یې وساته، زه به بیا د قامي مشرانو په وړاندې تا ته وړاندیز وکړم چې زه په خپل دې سفر کې طلاوو ته ضرورت لرم، نو ته که ماته دوه لوې پټنوسونه طلاوې په پور راکړې انشاالله د کابل د نیولو سره سم به ستا پور ادا کړم.

زمرک خان ببرکزي همداسې وکړل، د جنرال محمد نادر خان د آس له خورجینې څخه یې دوه کڅوړې طلاوې د خپل آس خورجینې ته ولیږدولې او چې څه وخت د زمرک خان ببرکزي کور ته ورسیدل او هلته د لویې پکتیا زیات شمیر مشران هم موجود وو ، ځکه هغوي ته لا پخوا تورو اوبو ته تر تګ دمخه زمرک خان خبر ورکړی او دوی

[1] . غبار، غلام محمد. افغانستان در مسیر تاریخ، لومړی ټوک، دریم چاپ (۱۳۶۶) ۷۱۱ او ۷۱۲ مخونه .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځانونه رارسولي وو ، تر روغبړ او خبرو اترو وروسته جنرال محمد نادر خان یوه خوا او بله خوا وکتل زمرک خان ببرکزي ته یې په خطاب کې وویل: خانصاحب! ماته په دې لوی سفر او ستر پروګرام کې پیسې پکارېږي او زه دومره زیاتې روپۍ نه لرم چې د خپل سفر اړتیاوې پرې پوره کړم، نو که ته دوه پتنوسونه طلا په پور راکړې انشاالله د کابل د تخت د نیولو سره سم به ستا پور ادا کړم. زمرک خان له خپل ځای نه پورته شو او یوه شیبه وروسته یې په دوو سترو پتنوسونو کې طلاوې راوړې او د محمد نادر خان په مخکې یې کېښودې. محمد نادر خان په ډېرې منني سره هغه طلاوې په دوو سترو کڅوړو کې واچولې او خپل اړخ ته یې کېښودې.

جنرال محمد نادر خان د زمرک خان ببرکزي په کور کې څو شپې تیرې کړې، چې په دې موده کې د پکتیا د نورو قامونو زیات شمیر مشران هم ورته راغلل، ددوی تر منځ خبرې اترې او مجلسونه په ډېر شور او زوږ کې روان وو تر څو خبره تر دې بریده ورسیده چې د زمرک خان په شمول د پکتیا د ټولو قامونو مشرانو په یوه غږ له جنرال محمد نادر خان څخه پوښتنه وکړه چې جنرال صاحب نادر خانه! تاسو چې د سلطنت د ترلاسه کولو له پاره ملا تړلې او غواړئ پراخې پرګنې له ځان سره ملګري کړئ، نو له موږ سره دا پوښتنه پیدا شوې ده چې ته د کابل تخت د چا له پاره نیول غواړې؟ جنرال محمد نادر خان په دیر جرات او لوړ غږ وویل زه د کابل تخت او تاج د خپل بادار اعلیحضرت غازي امان الله خان له پاره نیسم ، ځکه چې زه د هغه یو عسکر او خادم یم. مشرانو ورته وویل: ستا دا خبره زمونږ ډېره خوښه شوه، خو زمونږ او ستا تر منځ باید یو داډ موجود وي او هغه دا چې د عظیم الشان قرآن په مبارکه پاڼه ته باید خپل دغه اقرار ولیکې او هغه لاسلیک کړې. محمد نادر خان د مشرانو سره دا خبره ومنله او هغوي یو لوې مجلد عظیم الشان قرآن راوړ او د هغه په حاشیه کې جنرال محمد نادر خان په بشپړه توګه خپله دغه ژمنه ولیکله، بیا یې خپل لاسلیک پرې وکړ. مشرانو دغه عظیم الشان قرآن د امانت په توګه د نایب سالار زمرک خان ببرکزي په کور کې کېښود او په ټینګه یې ورته وویل چې دغه امانت به په خپل کور کې د یوه سند په توګه ساتې. خو څه وخت چې جنرال محمد نادر خان د کابل تخت ونیو او بیا هغه مهال چې سردار محمد هاشم خان د هیواد د صدراعظم په توګه د قدرت واګې ترلاسه کړل، نو د نایب سالار زمرک خان او وکیل شیرمحمد خان د وینا له مخې دغه لاسلیک شوې او ټاپه شوې عظیم الشان قرآن د دوې پر کورنۍ باندې د دولت له لورې د پوځي برید په نتیجه کې د دوې له نورې شتمنۍ سره یو ځای د دولتي قواوو لخوا یوړل شو خو دا بیا معلومه نشوه چې دغه معتبر سند په څه ډول سرنوشت اخته شوی»[2].

د ببرکزي کورنۍ په پورتني اسنادو کې درې مهمو ټکو ته اشاره شوې ده، چې یوه یې د سرو زرو دوه کڅوړې، بله یې د عظیم الشان قرآن په مبارکه پاڼه دا اعلیحضرت غازي امان الله خان لپاره د کابل د نیولو د ژمنې لاسلیک ، او دریمه یې د غازي امان الله خان په بیرته راتګ د خلکو او اولسونو ټینګار دئ.

---

[2] . غروال، محمد عارف . د غازیانو او اتلانو یاد، ۱۴۰-۱۴۳ مخونه .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## د طلاوو دوه کڅوړې

د سپه سالار محمد نادر خان سره د سرو زرو یا طلاوو موجودیت په نورو کورنیو او باندنیو اسنادو کې ذکر شوي دي. خو دا چې دغه سره زر څومره وو، له کومه شوي او هغه یې د منبع د پېتولو کوښښ ولې کړې دئ، پوره معلومه نه ده.

کورني لیکوال لکه سیدال یوسفزي (کوم چې د سید قاسم رشتیا مستعار نوم دئ) وائي چې « شاه محمود خان چې لا پخوا د حبیب الله [کلکاني] لخوا د یوه بلنلیک او څلور سوه طلائي پونډو سره جنوبي سیمې ته استول شوې و، نادر خان ته ورسید».[3] د بریتانوي هند د آرشیف د یوه سند څخه څرګندیږي چې محمد نادر خان او د هغه ورور شاه ولي خان د ۱۹۲۹ م کال مارچ د میاشتې په ۲مه نیټه ټل ته ورسیدل او د کورمې په ایجینسۍ کې یې د انګریزانو د پولیټیکل ایجنټ یا د بریتانوي هند سیاسي استازې R. R. Maconachie (مکوناچي) لخوا تود هرکلې وشو. مکوناچې، چې پخوا په کابل کې د انګریزانو په سفارت کې د مستشار په توګه دنده درلوده، په خپل یوه ریپوټ کې ولیکل چې «هغوې د مازیګر په پنځه بجو «علي زیو» ته ورسیدل. مونږ ورته په «ډاګ بنګله» کې د اوسیدو ترتیبات نیولي وو، هغه د نور حسن دعوت قبول او د شپې د تیرولو دپاره د سیند پورې غاړه د «انځري» کلي ته لاړل. زه د مارچ د اومې نیټې په سهار د کپتان هارتیکان سره یو ځاې له سینده پورې وتلم او د سردارانو لیدو ته، چه مونږ ته یې انتظار ویست، لاړو. مونږ یو ځاې د علي زیو ریست هاوز (سرکاري میلمستون) ته ستانه شو او هلته مو یو ساعت ملاقات درلود. هغوې له ما وغوښتل چې لیک یې شاه محمود خان ته واستوم تر څو په پاړا چنار کې د دوې سره وګوري...شاه محمود خان د شپې په لسو بجو د «پیواړ» له لارې راورسید او د سردار نادر خان او شاه ولی خان سره یې شپه په ډاګ خانه کې تیره کړه. د شاه محمود خان سره د هغه (وراره) احمد علی خان، غونډ مشر محمد هاشم خان، عبدالله خان [شاه جي] او الله نواز خان ملګري وو. تر هغې وروسته د دریو ورونو خصوصي مجلس پیل شو. د موجوده خبر له مخې پدې مجلس کې شاه محمود خان، د حبیب الله کلکاني لیک نادر خان ته ورکړ.. نادرخان د قامونو د چلند په هکله پوښتنه وکړه او شاه محمود خان ورته وویل چې د احمدزي غلجیو، ځینو لوګریانو او خوشي د شیعه ګانو پرته ټول د نادرخان پلویان دي. سردار نادر خان وویل، داسې هیڅ کار باید ونه کړئ چې خلک فکر وکړي دا ورونه د امان الله خان سره دښمني لري، یا د ناکامۍ په صورت کې ټولو ته رسوا شي. سردار شاه محمود خان باید د خلکو اعتماد ترلاسه کړي او په مشرقي کې د هاشم خان د هلوځلو تر معلومیدو کوم بل کار سر ته ونه رسوي. که چیرې هغوې د جنوبي او مشرقي ملاتړ لاس ته راوړي، څلور واړه ورونه به کابل ته لاړ شي.

ایم ای حکیم هم، د چا په هکله چې مو د فبروري د ۸مې نیټې په هکله خبر راکړې و، د سهار په دوه بجو موټر سره له پیښوره راورسید...سردار شاه محمود خان د طلاوو د خښتو یوه کوچنۍ بسته سردار نادر خان ته وسپارله. د مارچ د اتمې د سهار په اته نیمو بجو سردار نادر خان او شاه ولي خان خوست ته د تګ په غرض علیزیو ته راستانه

---

[3] . سیدال یوسفزي . تاریخ سکوت میشکند – نادر چگونه به پادشاهي رسید، ۷۲ مخ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

**شول او سردار شاه محمود خان نیم ساعت وروسته، خپلو ملګرو سره، د پیواړ له لارې آریوب ته لاړل. درې واړه ورونه په هماغه ورځ د ماسپښین نه وروسته په ترتیب سره، د خوست او آریوب په مقصد، له سرحده تیر شول»[4].**

**د غازي امان الله خان لپاره د کابل د نیولو د ژمنې**

سردار محمد نادر خان بریتانوي هند ته له رسیدو، بیا لاهور نه د تیریدو، او له پېښوره نیولې تر پکتیا او لوګره رسیدو پورې په ټوله موده کې په پرلپسې توګه د هندوستان خپلواکي غوښتونکو، خبریالانو او د افغانستان اولسونو ته د خپل راتګ په هکله څه داسې ویل چې «زه افغانستان ته په راتګ کې کوم شخصي مقصد نه لرم. زه د تاج او تخت غوښتونکې نه یم. زه د اعلیحضرت امان الله خان په او سني حالت خواشینې یم، او د هغوې د شخصي خیر او ټولنې د ګټو دپاره به کار کوم. زما مقصد په افغانستان کې د امنیت او صلحې راوستل دي. زه به هر هغه چا سره بیعت وکړم چې ملت یې د پاچا په توګه ومني». [5]

د غازي امان الله خان لپاره د کابل د نیولو د ژمنې او په علیخیلو کې د سردار محمد نادر خان په مرکز کې د یوې سترې قامي غونډې د پریکړې په ګډون «د افغانستان د خپلواکۍ او نجات د پیاوړي مجاهد، بریالي غازي او نامتو مبارز جرنیل یار محمد خان وزیري په خاطراتو کښې» ګڼې یادونې شوې دي، چې دلته یې د نمونې په توګه یو څو مثالونه راوړو:

**« د ۱۳۴۸ هجري قمري کال د ربیع الثاني یو ویشتمه نېټه وه چې د سهار په لسو بجو باندې د علیخېلو په چونۍ کښې چې د محمد نادر خان مقرؤ د مشرانو غونډه جوړه شوه او په دې غونډه کښې سپاه سالار محمد نادر خان، کرنیل سردار شاه محمود خان، مولوي صاحب الله نواز خان[6]، حاجي صاحب نواب خان، زلمی خان منګل، زمرک خان ځدراڼ، سنګ خان منګل، عبدالغني خان ګردیزی، فیض محمدد حاجي نواب خان زوی، غونډ مشر صاحب نور محمد خان ګردېزی، سردار صاحب امین جان د اعلیحضرت امان الله خان ورور، فقیر محمد خان مومند د اعلیحضرت غازي امان الله خان د سلطنت په دوره کښې د جنوبي سمت د څنګلونو رئیس، حاجي صاحب جان خان سربلند، سید خان او لیپت خان د ځاځیو د ګل غوندۍ شبر جان تنی، سدوخان تنی، شادینخان دوړ او د وزیرو او مسودو ټولو مشرانو زما تر قیادت لاندې ګډون درلود.**

**د ربیع الثاني د یوویشتمې جرګه سپاه سالار صاحب په خپلو څو لنډو خبرو سره پیل کړ، په دې جرګه کښې بیا هم محمد نادر خان خپل مجبوریت او پرېشاني موږ مشرانو ته په ګوته کړه، د سپاه سالار صاحب د**

---

[4] . د بریتانوي هند د اسنادو د آرشیف د ۱۹۲۹ کال د مارچ د میاشتې د ۹مې نیټې د ۲۱۸ شمیره یادداشت په مټ، د عبدالرحمن زماني د بازنګري دوره امانی و توطئه های انګلیس ۴۳۶ – ۴۳۷ مخونه

5 . کشککي، برهان الدین (۱۳۱۰). نادر افغان، لومړې ټوک ۳۴۹ -۳۵۱ مخونه .

6 . دا سړی چې د خلکو د غولولو دپاره یې د انګریزي ښارګرو په شان د مولوي په جامه کې د مشخصو اهدافو دپاره خدمت کولو د هندوستان د ملتان د خان بهادر رب نواز خان زوې و. چې د سردار محمد نادرخان په واک ته روسولو کې یې مهم رول درلود او وروسته د دربار د وزیر، د فواید عامې د وزیر، په المان کې د افغانستان د سفیر او په اروپا کې د غازي امان الله خان د څارلو او وژلو د هڅو په شان مهمې دندې وسپارل شوی .

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**افتتاحیه وینا څخه وروسته، د جرګې او غونډې د ګډون کوونکو د اوږدو خبرو نه وروسته موږ مشرانو او سپاه سالار محمد نادر خان په دې لاندینی پرېکړه تعهد او پیمان وکړ:**

**1 . د ټولو قبیلو او قومونو مشران دې خپل جنګیالي وطن ته تر نجات ورکولو پورې ترغیب کوي**
**2 . د ځدراڼو، منګلو، ځاځیو او ګردېزیانو لښکر دې بېل وي او د وزیرو، مسودو، دوړو او تنیو د جنګیالیو لښکر دی بیل وي.**
**3 . د حبیب الله د طرفدارانو سره د جنګ او جګړې ټول امور به د مشرانو په پرېکړه او فیصله سره کېږي**
**4 . د کابل تر نیولو پورې دې سپاه سالار صاحب په علي خېلو کښې ځای پر ځای وي او کرنیل شاه ولي خان دې دسپاه سالار په وکالت د لښکرو سره مل وي .**
**5 . د وطن د نجات نه وروسته دې اعلیحضرت غازي امان الله خان سلطنت کولو ته راوغوښتل شي او یا دې دده د خپلخاني څخه وبل اهل ته سلطنت وسپارل شي.**
**6 . د اعلیحضرت غازي امان الله خان تر راتګ پورې به سپاه سالار صاحب د سلطنت وکیل وي.**
**7 . حقاني علماؤ او مشایخو د طریقت ته دې په درنده سترګه او عزت سره وکتل شي[7] .**

د زیاتو معلوماتو دپاره د همدې کتاب نور مطالب لکه «د سلطنت پر سر د مشرانو دوګانګي او د نادرخان عهد شکني» ۳۲۹ مخ، او محمد نادر خان ته د هغه د عهد شکنۍ یادونه» ۳۳۳ مخ کتلې شئ.

د یادونې وړ ده چې د سپه سالار محمد نادر خان ورونو هم په کراتو کراتو د هغه په شان وعدې کړي دي. د مثال په توګه د انګریزي استخباراتو په رپوټونو کې د مکوناچي، انګریزي پولیټیکل ایجنټ، ټل ته د خلافتیانو د یوه لیږل شوي هیئت او سردار شاه محمود خان سره د کتلو په خبر کې لیکل شوي چې «شیر زمان او ګلباز د ۱۹۲۹ م کال د مارچ د اتمې نیټې په سهار له شاه محمود خان نه وغوښتل چې هغوی ته اطمینان ورکړي چې سردار نادر خان او ورونه به خپلې ټولې ګیلې او خپګانونه څنډې ته ږدي او د غازي امان الله خان د سلطنت د اعادې دپاره په ګډه زیار باسي. سردار شاه محمود خان په ځواب کې وویل چې د هغه کورنۍ ځانته د تاج او تخت غوښتونکې نه دي»[8].

**د غازي امان الله خان په بیرته راتګ د اولسونو ټینګار**

که څه هم د غازي امان الله خان د واکمنۍ د نسکورولو په هکله پدې وروستیو کلونو کې تر زیاتې اندازې د هیواد د خپلواکۍ او ترقۍ د دښمنانو د ناوړو تبلیغاتو په مټ جوړې شوې کیسې له تاریخي حقایقو سره جلا شوې دي، دلته غواړم، پرته لدې چې د هیواد په جنوبي سیمو کې تیر ذکر شوي مطالب تکرار کړم، یو څو

---

[7] . د افغانستان د خپلواکۍ او نجات تاریخ د جرنیل یار محمد خان وزیري په خاطراتو کې (۱۳۷۹)، ۲۵۳ - ۲۵۹.
8 . د بریتانوي هند د اسنادو د آرشیف L/P&S/10/1301 شمیرې سند چې په کورمه کې د ۱۹۲۹ کال د مارچ د میاشتې له ۶ مې تر ۸ مې نیټې د په موده کې د سردار نادر خان، شاه ولی خان او شاه محمود خان د کتلو په هکله د کرمې ایجنسۍ د پولیټیکل ایجنټ مکوناچې د تبصرو په هکله دې . د زیاتو معلوماتو د پاره د عبدالرحمن زماني د بازنګري دوره امانی و توطئه های انګلیس ۴۳۶ – ۴۵۰ مخونه وګورئ .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

محدودو داسې نورو اسنادو ته هم اشاره وکړم چې د هماغه وخت د مشرقي د اغتشاش نه لرې موده وروسته په خلکو کې د غازي امان الله خان محبوبيت او د هغه په بيرته راتګ د اولسونو ټينګار څرګندوي:

کله چې سردار محمد نادر خان او ورونه يې له فرانسې نه بيرته راستانه شول نو د کابل د نيولو پلان يې بايد د جوړې شوې نقشې سره سم ګام په ګام پلې شوې وای. خو دا پلان د زياتو خنډونو او ځنډونو سره مخامخ شو. ددغه پلان له مخې سردار هاشم خان د مشرقي او نادرخان او شاه ولي خان د جنوبي په سيمو کې افغانستان ته ورننوتل. د بريتانوي هند د محرمانه اسنادو په شهادت ، او د نادري دورې د تبليغاتي کتابونو لکه «نادر افغان» او «بحران و نجات» د ادعاګانو په خلاف ، د دوې د پرمختګ په وړاندې تر ټولو ستره او مهمه ستونزه د غازي امان الله خان په بيرته راتګ د اولسونو او پرګنو ټينګار وو. په پيښور کې د انګريزانو کميشنر په يوه استخباراتي رپوټ کې وليکل چې «د ټولو منابعو څخه رسيدلي رپوټونه په جنوبي او مشرقي ولايتونو او همدا شان آزادو قبايلي سيمو کې د حالاتو ناڅاپي بدلون ته اشاره کوي ، او د خلکو احساسات د امان الله خان په ګټه مخ په زياتيدو دي. نادر خان د خوست د مختلفو قومونو لخوا تر فشار لاندې دئ چې امان الله خان سره خپل څرګند پلويتوب اعلان کړي، که داسې نه وي نو هغوې به يې مرسته ونکړي. دې ته ورته په «لعلپورې» کې هم د «بايزو» او «خويزو» د ځانګو مشرانو په کلکه هاشم خان ته ويلي چې هغوې به يوازې د امان الله خان د سلطنت د بيرته اعادې په صورت کې د هغه سره مرسته وکړي».[9]

عجيبه خو لا دا وه چې هماغه ملک محمد علم خان او ملک محمد افضل خان چې څلور مياشتې مخکې يې د شينوارو بغاوت کړې وو ، اوس په مايوسئ او ناکامۍ سره هاشم خان له خپلې سيمې وويست. خو د خوګيانيو سره هم د هاشم خان چانس دومره ښه نه و. خو څرنګه چې دا سيمه کابل ته نږدې وه، هاشم خان د ټولو شوو قواوو په مټه ځان هدف ته نږدې ګڼلو ، خو کله چې د حبيب الله قواوو د کابل نه حرکت وکړ، نو د خوګيانيو ملکانو د هغه ملګرتوب پرېښود او د برياليو قواوو ملګري شول.[10]

(نور بيا )

---

[9] . د بريتانوي هند د اسنادو د آرشيف ۶۴۸ شميره تلګرام - د ۱۹۲۹ کال د مارچ د ۱۴مې نيټې د شمال لويديز د سرحدي ايالت د عمومي کمشنر تلګرام

10 . سيدال يوسفزې، نادر چګونه به پادشاهي رسيد، ۷۰ او ۷۱ مخونه .



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ